UNHCR ACNUR
Agência da ONU para Refugiados

MINISTÉRIO DA JUSTIÇA E SEGURANÇA PÚBLICA

GOVERNO FEDERAL BRASIL
UNIÃO E RECONSTRUÇÃO



# په برازیل کی د کډوالئ د
# غوښتنی د وضعیت د
# پیژندلو آسناد وپژنئ

## په برازیل کی د پناه غوښتنی د بهیر پراوونه.

**۱**. دپناه غوښتنی د حا لت د پیژندلو لپاره غوښتنه په سیس کوناري کي کول.
**او د پولیس فدرال له لوري د آسنادو صادرول.**

**۲**. د کډوالو لپاره د ملي کمیټی لخوا د پروسی تحلیل. (کوناري)

**۳**. د کوناري وروستئ پریکړه.

**۴**. د پناه غوښتونکي په توګه پیژندل شویو کسانو ته د پولیس فدرال له لوري د آسنادوصادرول یا د پناه غوښتونکي په صفت د نه پیژندل شویو کسانولپاره (سرچینه او/یا هم د پناه غوښتنی د بدیل د منظم کولو په لټه کی).

کله چی پناه غوښتونکي د پناه غوښتنی د وضعیت د پیژندلوغوښتنه وکړي ، دوی به دملي مهاجرت د ثبت لنډ مهاله پروتوکول (DPRNM ) تر لاسه کړي، چی په برازیل کی د پیژندنی د آسنادو په توګه کارول کیږي.

د برازیل د کډوالئ قانون د ۲۱ آرټ د قانون نمبر( ۹،۴۷۴ د جولائ د ۲۲ د ۱۹۹۷ :bit.ly/3JMRMpH) له مخی پناه غوښتونکي د ډیجیټل لنډ مهاله د کار او ټولیز امنیت کارت (CTPS) د لاسته راوړلو حق لري.

سر بیره پردی، د هر پناه غوښتونکي په صفت د پیژندلو لپاره حقوق په لاندی دول دي:

- د انفرادي مالیی ورکونکي د پیژندنی شمیری یا (CPF) لاسته راوړل.
- روغتیایی خدمتونو، تعلیم ا و نورو ټولنیزو ګټو ته لاس رسئ.
- د بانکي حساب د خلاصولو لپاره غوښتنه

اوس مهال د هغو کسانو لپاره چی د پناه غوښتی لپاره یی د پیژندلوغوښتنه کړي وی ، دری ډوله سندونه وجود لري چی په ټول هیواد کی د اعتبار وړدي:

۱. د مهاجرت د ثبت او راجسټر لند مهاله سند (DPRNM ).
۲. د پناه غوښتنی پروتوکول – Sisconare.
۳. د پناه غوښتنی پروتوکول – SEI.



## ۳ . کډوالۍ پروتوکول ـ SEI

کډوالۍ پروتوکول ــ SEI هغه ماډل و چې د ۲۰۱۹ کال تر پایه پورې خپور شوئ او د A4 شيټ بڼه لري. دا په تدريجي ډول د کډوالۍ د پروتوکول باندې بدليږي ـ Sisconare.

**داډول پروتوکول اوس هم په استثنایي مواردو کې صادريږي، لکه په ځينو سرحدي پوستونو کې.**


SERVIÇO PÚBLICO FEDERAL
MJSP - POLÍCIA FEDERAL
NÚCLEO DE REGISTRO DE ESTRANGEIROS

| Documento Provisório de Identidade de Estrangeiro | MINISTÉRIO DA JUSTIÇA COMITÊ NACIONAL PARA REFUGIADOS |
| --- | --- |
| DADOS DO ESTRANGEIRO<br>Nome Social:<br>Nome: XXXXX XXXXXXX XXXX<br>PAI: XXXXXXX<br>MÃE: XXXXXXXX<br>Data de nascimento: XX/XX/XXXX<br>Gênero: XXXXX<br>Nacionalidade: XXXXX<br>Assinatura: | Protocolo nº: XXXXX.XXXXXX/201X-XX<br>Data de expedição: XX/XX/XXXX<br>Data de validade: XX/XX/XXXX |
| Tipo do pedido: SOLICITAÇÃO DE REFÚGIO<br>Solicitação nos termos da Lei: 9.474/1997<br>Anexo I da Resolução CONARE nº 18/14 | |
| Assinatura do servidor (Assinar eletronicamente) | - pelo telefone (61) 2025-9225 |

Documento assinado eletronicamente por XXXXXX XXXXXX, Agente de Polícia Federal, em XX/XX/XXXX, às XX:XX, conforme horário oficial de Brasília, com fundamento no art. 6º, § 1º, do Decreto nº 8.539, de 8 de outubro de 2015.

A autenticidade deste documento pode ser conferida no site http://sei.dpf.gov.br/sei/controlador_externo.php?acao=documento_conferir&id_orgao_acesso_externo=0, informando o código verificador XXXXX e o código CRC XXXXXXXX.

### اصلي پناه غوښتونکي.

ددی ماډل په اړخ کی د اصلي پناه غوښتونکي لپاره استعماليږي، دا هغه څوک دي چې غوښتنه يی په خپل نوم کړي وي لکه څنګه چې د پناه غوښتنی په خانه کی مشخص شوي ده.

### د تمديد يا بيا نوي کولو غوښتنه.

دفاميلي ګروپونو په ډله کي کسان شتون لري چې ددوی د پناهندګۍ د پروسی لړۍ په اصلي غوښتونکي پورې تړاو لري چې دا هغه خلک دی چې پناهندګۍ پروسه يی د فاميل د يو ځای کيدو (Reuniao familiar) له لاری مخکی ځي.

په دی حالتونو کی ، د کډوالۍ پروتوکول ـ SEI کی معمولا لاندی معلومات شتون لري.

- داصلي غوښتونکي نوم.
- د اصلي غوښتونکي د پروتوکول شميره.
- د اصلي غوښتونکي سره د خپلوئ او قرابت درجه.


SERVIÇO PÚBLICO FEDERAL
MJSP - POLÍCIA FEDERAL
DELEGACIA DE POLÍCIA DE IMIGRAÇÃO - DELEMIG/DREX/SR/PF/RR

| Documento Provisório de Identidade de Estrangeiro | | MINISTÉRIO DA JUSTIÇA COMITÊ NACIONAL PARA REFUGIADOS |
| --- | --- | --- |
| DADOS DO ESTRANGEIRO<br>Nome: XXXXXXX XXXXXXXX XXXXXX<br>Nome do pai: XXXXXXXX XXXXXX XXXXXXX<br>Nome da mãe: XXXXXX XXXXXXX XXXXXXX<br>Data de nascimento: XX/XX/XXXX<br>Gênero: XXXXXXXXX<br>Nacionalidade: XXXXXXXX<br>Assinatura: | | Protocolo nº.: 00000.000000/0000-00<br>Data de Expedição: XX/XX/XXXX<br>Data de Validade: XX/XX/XXXX<br>Nome do solicitante principal: XXXXX XXXXX XXXXXX<br>Vinculado ao protocolo do solicitante principal nº: 00000 000000/0000-00<br>Grau de parentesco com o solicitante principal: XXXXXX |
| | Tipo do pedido: SOLICITAÇÃO DE REFÚGIO POR EXTENSÃO<br>Solicitação nos termos da Lei: 9.474/1997<br>Anexo I da Resolução CONARE nº 24/17 | A Lei 9.474/1997 assegura ao portador deste documento que "em hipótese alguma será efetuada sua deportação para fronteira de território em que sua vida ou liberdade esteja ameaçada, em virtude de raça, religião, nacionalidade, grupo social ou opinião política" (Artigo 7, §1)<br>Este protocolo é documento de identidade válido em todo o território nacional e é prova da condição migratória regular do seu titular.<br>O titular deste protocolo possui os mesmos direitos de qualquer outro estrangeiro em situação regular no Brasil e deve ser tratado sem discriminação de qualquer natureza. |
| Assinatura do servidor (Assinar eletronicamente) | | O titular deste protocolo deverá manter os seus contatos atualizados e comunicar a Policia Federal e ao CONARE em caso de qualquer alteração em seu telefone, endereço e e-mail.A comunicação pode ser feita pelos seguintes meios:<br>-pessoalmente, na Delegacia de Polícia Federal mais próxima<br>- por escrito, para o e-mail conare@mj.gov.br<br>- pelo telefone (61) 2025-9225<br>Assinatura: (assinado eletronicamente) |

Documento assinado eletronicamente por - - - - - - - - - - - - - - - - -, **Agente Administrativo**, em 00/00/0000, às 00:00, conforme horário oficial de Brasília, com fundamento no art. 6º, § 1º, do Decreto nº 8.539, de 8 de outubro de 2015.

A autenticidade deste documento pode ser conferida no site http://sei.dpf.gov.br/sei/controlador_externo.php?acao=documento_conferir&id_orgao_acesso_externo=0, informando o código verificador XXXXXXX e o código CRC XXXXXXXX .

**Referência:** Processo nº XXXXX.XXXXXX/XXXX-XX SEI nº 4847098

**کډوالۍ پروتوکول ـ SEI له یو څخه ډیرماډلونه لري،نو له همدی امله په ټول سند کی ممکن معلومات او يا هم عکس توپير ولري.**



### توجه!

په کال کی يوځل خپل د پناه غوښتنی پروتوکول بيا نوي کول مه هيروئ.

**په پولیس فدرال کی د غوښتنی د سپارلو په پای کی به غوښتونکي کس دوه سندونه تر لاسه کړي:**

۱. د کډوالئ پروتوکول- Sisconare کوم چی په سیس کوناري کی د پناه غوښتنی د وضعیت د پیژندلو غوښتنه په ګوته کوي. چی پروتوکول دپناه غوښتنی یوه شمیره لري چی ۱۷ عددونه لري (مثال: ۰۰۰۰/۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰-۰۰ ) او

۲. د Sismigra پروتوکول، په پاڼه کی وي چی کیدای شي د مهاجرت ملي ثبت راجستر(RNM ) نمبر ولري دا به اړینه وي چی پولس فدرال ته یی د DPNM د اخستو په وخت کی چیری چی تاسی غوښتنه کړي وه وړاندی کړئ.

۳. د DPRNM سند ممکن سمدستي پدی وخت کی تر لاسه نکړئ. د ترلاسه کولو لپاره یی د غوښتنی په وخت کی نیټه وګورئ.

## ۲. دکډوالو پروتوکول (Sisconare)

د ۲۰۱۹ کال په سپتمبر کی Sisconare د کډوالو د پروسس سیستم په توګه پلئ شو. په همدی ډول یی د کډوالئ د وضعیت د پیژندلو لپاره پروسه او د کډوالئ د پیژندنی سند پروتوکول صادریدل پیل کړل.

هغه خلک چی د ۲۰۱۹ کال څخه یی د مخه د کډوالئ د پیژندنی ِغوښتنه کړي وه د کډوالئ پروتوکول درلودو چی اوس یی په بدل کی د بیا نوي کولو وروسته د SEI د نوئ ماډل ورکول کیږي.

### دآسنادو توکي

**دپناه غوښتنی پروتوکول:** داد غوښتونکي د پیژندنی شمیره ده چی ۱۷ اعداد لري لکه ۰۰.۰۰۰۰.۰۰۰۰۰۰.۰۰۰۰۰چی د نمبر په آخر کی هغه تاریخ دئ په کوم کال کی چی د کډوالئ لپاره غوښتنه شویده.

دغه شمیره د Conare د عمومي همغږئ د پروسی د شمیری سره مطابقت لري. ددی شماری سره دا ممکنه ده چی د غوښتنی د پروسی په اړه معلومات تر لاسه کړئ.






# ۱ ▪ د ملي مهاجر د ثبت موقتي سند (DPRNM)

دا د پېژندنې سند دئ چې د فدرال پولیسو لخوا هغو کسانو ته ورکول کیږي چې د پناه غوښتنې د وضعیت د پیژندلو لپاره یې غوښتنه کړې وي صادریږي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ۹،۲۷۷ فرمان د ۵ فبروري د ۲۰۱۸ کال وګورئ (bit.ly/3qMZit6).

## دکارت مخ




د غوښتونکي عکس

**نوم:** د غوښتونکي شخص نوم او کورنۍ نوم او یا هم مدني نوم.

دغوښتونکي شخص د پلار او مور نوم او کورنۍ نوم

**داعتبار موده:** د ۲۰۱۸ کال د آرت ۴ ، ۱ فرمان نمبر ۹،۲۷۷ چې د کیو آر کوډ چې د کارت په شا کې موقعیت لري سکن کړی.

آر ان ام: د یو لیک شپږو اعدادو او یو علامې څخه ترتیب شوئ چې د غوښتونکي د مهاجر د ثبت (RNM) سره مطابقت لري مثال A123456-7 که چیرې هغه څوک چې د کوناري لخوا د پناه غوښتونکي په صفت و پیژندل شي او سند بدلوي نو د پیژندنې شمیره یی هماغه پاتې کیږي.

## دکارت شا




**کیو آر کوډ:** ددی کوډ له لارې ممکنه ده چې د کارت د اعتبار موده وګورئ

**مدني نوم:** کله چې په سند کې مدني نوم موجود وي

**حقوقي ملاتړ:** ۲ بند د فرمان شمیره ۹،۲۷۷ د ۲۰۱۸ کال

**پروتوکول:** دا هغه شمیره ده چې د پولیس فدرال لخوا د پناه غوښتنې د ثبت(سیسمیګرا) په وخت کې رامنځته کیږي چې لومړي ځلور عددونه د غوښتونکي کس د ثبت د کال سره مطابقت لري.

**CPF:** د غوښتونکي شخص د انفرادي مالیي ورکولو د ثبت شمیره.

**داعتبارموده:** د فدرال پولیسو له لوري د سند د صادرولو نیټه.

## څنګه کولای شو چې د DPRNM د اعتبار تاریخ وګورو؟

کولای شئ چې د خپل ګرځنده مبایل د کامرې یا برنامې په واسطه د کارت په څټ چاپ شوئ د کیو آر (QR ) کوډ ولولئ او سکن یې کړئ په دې طریقه تاسې کولای شئ چې د اعتبار موده یی وګورئ څکه په سند باندې د اعتبار تاریخ ندئ لیکل شوئ

کله چې صادر شي، نو DPRNM هم د کډوالۍ د پروتوکول په څیر ورته اعتبار لري، ۱ کلن هم وي یا هم تر هغې چې د پناه غوښتنې پروسه جریان ولري.

د DPRNM سند د کډوالۍ د پروتوکول د نوي کولو په وخت کې اتومات نوئ کیږي.

کوم چې باید په کال کې یو ځل نوئ شي. دا اړینه نده چې هر کال د نوي کولو لپاره باید یو نوئ سند صادر شي، غوښتونکي به د کوناري تر پریکړې پورې همدا سند ولري.

هغه وخت چې دپناه غوښتونکي په توګه و پیژندل شي ، غوښتونکي به پولیس فدرال ته ځي تر څو دوی ته د مهاجرت ملي د ثبت او راجسترکارت (CRNM) صادر کړي.

د DPRNM سند د پولیس فدرال له لوري په لاندې موارډو کې صادریږي:

- کله چې په لومړي ځل د پناه غوښتنې د وضعیت د پیژندلو لپاره په لومړي ځل غوښتنه وړاندې کیږي. او یا هم.
- کله چې غوښتونکۍ پولیس فدرال ته مراجعه کوي تر څو د هغه یا هغې د کډوالۍ پروتوکول نوئ کړي کوم چې په ورقه یا کاغذ باندې چاپ شوئ وي هغه هم د پروسې په جریان کې.

د DPRNM سند وړیا دئ . هیڅ کوم خاصې پروسې یا کوم د فورم ډکولو ته ضرورت نه لري.



## پاملرنه!

- دا اړینه ده چې په پولیس فدرال کی هر کال د کډوالئ پروتوکول بیا نوئ کړئ،تر هغه وخته چې ستاسی د پناه غوښتنی په اړه پریکړه نوي شوي.چې دا کار حقایقو او خدماتو ته لاسرسئ آسانه کوي.
- ستاسی (ډي،پي،آر،ان،ام) د کډوالئ د پروتوکول له نوی کولو سره په اتومات ډول نوئ کیږي. اود کوناري تر وروسئ پریکړی پوری یی بدلولو ته اړتیا نشته. د اعتبار د کتلو لپاره په ساده ډول د کارت شاته د کیو،آر کوډ وګورئ.

DPRNM او یا هم د کډوالئ پروتوکول د سفر لپاره نړیوال سندونه ندي او یواځی که د غوښتونکي تابعیت دا ایجاب کړي، او دوباره برازیل ته د ننوتلو لپاره د ویزی اړتیا نه بدلوي، هغه څوک چې پناه لپاره غوښتنه کوي ،دوی حقونه او دندی لري چې باید عملي یی کړي. قانون شمیره ۹،۴۷۴ د جولائ د میاشتی ۲۲ د ۱۹۹۷ کال (bit.ly/36Gpie3).

که چیری پناه غوښتونکئ پرته له دی چی کوناري ته خبر ورکړي برازیل پریږدي،د هغه قضیه به ثبت شي.په پایله کی به ممکنه نه وی چی دده د پیژندنی سند بیا نوئ شي، د پناه غوښتنی د تحلیل چاری به یی ودریږي او د غوښتونکي د پنا هندګئ حالت غیر منظم کیږي

**پاملرنه!**اصلي هیواد ته بیرته ستنیدل ممکن دا په ګوته کړي چی د پناه غوښتنی اساس شتون نه لري!

**د نورو معلوماتو لپاره ویب پاڼو نه کتنه وکړئ**

**UNHCR Help** | **CG-Conare**

د مهاجرت د ملي ثبت او راجستر(CRNM) د کارتونود ډولونو او معلوماتو په اړه دلته معلومات تر لاسه کولای شئ. د فرمان شمیره ۱۱،۲۶۴ د جنورئ ۲۴ نیټه د ۲۰۲۰ کال. (bit.ly/DoQp8)

UNHCR ACNUR Agência da ONU para Refugiados
MINISTÉRIO DA JUSTIÇA E SEGURANÇA PÚBLICA
GOVERNO FEDERAL BRASIL UNIÃO E RECONSTRUÇÃO